واحد فقیره هاري واشنګټن، ۲۰۰۸/۱۲/۰۷م

# ډله ايزي وژني، قتل عامونه او عواقب

په تېرو دېرشو کلونو کي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي د مختلفو سياسي او نظامي شرايط لاندي بېشماره قتل عامونه او ډله ايزي وژني سوي دي. په لکهاوو زره افغانان تلف، خوږ، او کړېدلي دي. مګر د امريکا او ناټو د اوه کلن نظامي حاکميت او تسلط په دوران کي، د ملکي او بې دفاع خلکو وژل او د پرله پسي مرګانيو بمباريو ډېرېدل يو کرغېړن انکشاف دی. ځکه امريکايان او اروپايان د ثبات، سولي، ازادی، ديموکراسی، اقتصادي پرمختګ، او د دولت او ملت د جوړولو تر شعار لاندي افغانستان ته ور داخل سول. د امريکا په قيادت غربي ايتلاف د امن او امنيت د تامين وعدي کولي. د طالبانو او القاعدې د ختمولو او دکورني جنګونو او قومي شخړو د راايسارولو ژمني يې کولي. د افغانستان د اشغال په سر کي ښاغلي بوش په هغه جنګ ځپلي هېواد کي د دولت او ملت د جوړولو او د مارشال پلان د عملي کولو لوړه کوله. د يوه امن، ودان، او زرغون افغانستان لاپي شاپي يې وهلې. اکثرو سوله پالو خلکو تمه درلوده چي په افغانستان کي به د بين المللي ټولني په مرسته يو مشروع منتخب حکومت، ازادي، او ديموکراسي ټينګه سي. مرکزي حکومت او دولتي موسسات به له سره جوړ سي. اقتصاد به غښتلی او پياوړی سي.

مګر له بده مرغه وروسته له اوو کالو څخه څه چي موږ په عمل کي ګورو هغه دا چي که څه هم په ظاهره کي امريکا د ښه نيت، مرستي، او دوستی خبري کوي، خو په عمل او کردار کي په زياتېدونکي توګه د يوه مغرور، خوشک، او بې حوصلي استعماري افسر سلوک او چال چلند کوي. د بدنامو او ناروا خلکو سره مرسته او همکاري کوي. که څه هم بشري او اقتصادي مرستي کوي او ښاپسته زياتي پيسې هم لګوي، خو په بدل کي د محلي او بومي خلکو سره نژدې او دوستانه روابط نلري. بده لا دا چي عادي افغانان په زياتېدونکي توګه اوسني امريکايان او اروپايان د پخواني شوروي اشغالګرانو سره مقايسه کوي. په دواړو خواوو کي کرکه او قهر ورځ په ورځ زياتېږي. حملي ډېري، خطرناکي، او مرګانی کېږي. ړوند خښم، وچه بدي، او ژوره بدبيني ډېرېږي. د افغانانو او خارجيانو تر منيځ بې اعتمادي او فاصله ورو ورو زياتېږي. خارجيان په عمومي توګه د افغانستان په ټولو ښارونو کي پخپلو مستحکمو او جنګي کلاوو کي را ايسار دي، او په دايمي ډار او نزوا کي ژوند کوي. بلخوا، افغانان د پخوا په شاني پخپلو خرابه او کنډواله ښارونو او کليو کي د ژمي سختي، اوږدي، او سړي ورځي او شپې تېروي. په تېرو څو کلونو کي په وارو وارو لېدل سوي دي چي يوې ټرافيکي حادثي او يا يوې بلي پېښي د افغانستان په ښارونو کي ښاري او خياباني جنګونه او بلواګاني راپارولي دي. په افغاني ټولنه کي د خارجيانو پر خلاف دا موجوده قهر او غضب ته بايد پوره توجه وسي، ځکه عموما د ښاري قيامونو او پاڅونونو اغاز د يوه ژور او خطرناکه سياسي اختلاف او دښمنی مخکښ وي. په افغانستان کي، په اصطلاح نور نو چاړه هډوکي ته رسېدلي ده. او بايد يوه چاره يې وسي.

د همدي خطرونو په پس منظر کي، د کابل د نومبر د مياشتي پېښه ډېره عبرتناکه او حيرانونکي وه. په کابل کي، د امريکا پوځي موټر د يوه بدبخت کابلي د موټر سره ټکر کوي، په نتيجه کي يو افغان مړ او څو نور ټپي کېږي. سمدستي، همدا ټرافيکي حادثه محلي ځوانان او خلک په قهروي، او په سيمه کي د پوليسو او عامه کابليانو تر منيځ اخ وډب رامينځته کېږي. کابلي ځوانانو پر پوليسو باندي د ډبرو او بوتلونو ګوزارونه کوي، او په مقابل کي پوليس اعتراض کونکي د سوټو په زور تيت و پرک کوي. د کابل ښاريانو د "مړه دي وي امريکايان" او " مړه دي وي خارجيان" شعارونه ورکول. په کابل کي، دا لمړی ځل ندی چي د پوليسو او ښاري ځوانانو تر منيځ مرګانی نښتي کېږي، بلکي څو واره مخکي هم د کابل د ښار د لکهاوو بېکارو او روزګارو ځوانانو او پوليسو او خارجي عسکرو تر منيځ نښتي سوي دي. داسي برېښي چي د ددې ژمي په ترڅ کي به د افغانانو او خارجيانو تر منيځ تاوتريخوالي نور هم زيات سي. پراخه او محسوسه لوږه او د خلکو بېشماره اقتصادي مشکلات به د ښاري بلواګانو او اعتراضونو امکانات لا زيات کي. واقعا، د عامه افغانانو حوصله نوره ختمه سوې ده. ناميدي له حده وتلي ده او عام مخالفت او ناراضايت پراخ سوی دی.

بلخوا، ددې حادثي بيا پېښېدل د کابل د بېکاره حکومت او افغانانو تر منيځ فاصله نوره هم زياته کړه. عامه افغانانو ته د امريکا په ملاتړ د کابل اوسنی حکومت ګوډاګی او پردی ښکاري، او امريکايان او اروپايان ورته خارجي

اشغالگران. د خلکو قهر او ناراضايتي دې حده ته رسېدلي ده چي يوه ټرافيکي واقعه ښاري بلوا او اعتراض ايجاد وي. په ننگرهار کي هم ورته شان ښاري اعتراضونه او بلواگاني سوي دي. د جلال اباد په مرگانی اعتراض کي څو تنه مړه او څو نور ټپيان سوي وه. هلته هم د امريکا ځينو پاليسو او پوځي عملياتو عامه خلک او محصلين ځوکو او بازارونو ته راايستلي دي.

بله ييښنه په کابل کي د امريکا او ناټو د بمباريو او ژونو پر خلاف د افغانستان د ملي سراسري جرگي په همت يوه ستره سوله ايزه مظاهره وه. د افغانستان د ملي سراسري جرگي په اعلاميي کي په افغانستان کي د امريکا، ناټو او ايساف په بمباريو او عملياتو کي د عامه افغانانو د د قتل او وژلو د سمدستي ختمولو غوښته سوېده. مظاهره چيانو د جنگ او مرگ ژوبلي پر ضد شعارونه ورکول، او د سولي او ثبات غوښتنه يي کوله. په کابل کي، ددغه ډول سوله ايز او موثر اقدام بند و بست کول د قدر او تقدير وړ لاسته راوړنه ده. افغاني منورينو، مشرانو، ليکوالانو، او په دننه او بهر کي ټولو افغانانو ته پکار ده چي ددې ډول واقعاتو او پيښو په ارتباط دريځ غوره کړي او څه ووايي. همدا زموږ د عصر او زمان اساسي او حياتي مسايل دي. همدا زموږ د وخت چلنچونه دي. د موجه او سوله ايزو ملي غوښتنو دفاع بايد وسي. موږ وظيفه لرو چي د خپلي ټولني په حياتي مسايلو کي فعاله ونده واخلو. افغاني مدني ټولني بايد پدې ډول حوادثو کي تبارز او راڅرگندي سي، او خپل دريځ اعلان کي. آخبارونه او مطبوعات بايد د دغه راز پيښو په ارتباط پوره توجه او کمپين وکي. په تېره بيا، داخلي ژورناليستان او ليکوالان بايد ددغه راز حوادثو باب په تفصيل رپوټونه،مرکي، او تحليلونه خپاره کړي. په بل عبارت، پراخ کوربچ ورکړي. سوله ايز او موجه عامه اعتراضونه نه يوازي په داخل کي ملاتړ لري بلکي په خارج کي هم ډېر زيات پلويان لري.

په همدې لړ کي، افغاني محصلينو ته پکار ده چي د خپل ولس واقعي سياسي غوښتني منعکسي کړي، او د تحقق لپاره يې فعاله ونډه واخلي، نه د پوهنتون او دانشگاه په عبثو او جنجالي بحثونو کي چي پرته له وخت ضايع کولو او قومي، سيمه ايز، او ژبني اختلافاتو له ډېرولو څخه بله هيڅ گټه نلري. په بل عبارت، محصلينو ته پکار ده چي ورځني او عيني ستونزو ته پام وکي، نه تشو شعارونو ته. د خپل ولس په واقعي غوښتنو او براپلومونو باندي ځان پوه کي. د افغاني مدني ټولنو،محصلينو، او نورو ملي او مترقي شخصيتونو لمړی دنده دا ده چي پدغه راز نا کرارو او بحراني شرايطو کي د خپل ولس لپاره د يوه نوي حل مخکښان سي. نن سبا، منظمه او منوره مدني ټولنه، ملي اشخاص، او ځوان، پوه، او ويښ محصلين د وطن د سياسي جوړښت او قدرت په بدلون او اصلاح کي ډېر زيات اثر او نفوذ درلودلای سي. لنډه دا چي د محصلينو د شان او شوکت سره يو ملي ارمان او ملي غوښتني ښايي، نه د پوهنتون او زايشگاه نانديږ.

والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de